ورځپاڼه
شریعت
SHARIAT DAILY
دافغانستان د اسلامی امارت مرکزی نشراتی ارگان

شپږم کال ۶۵ گڼه پرله پسی (۴۴۵)، چهارشنبه د۱۴۲۲ هـ ق دجمادی الثانی (۱۷)
د ۱۳۸۰ هـ ش کال دسنبلی (۱۴) د۲۰۰۱ میلادی کال د سپتمبر (۵)

ملگروملتوته دبهرنیوچاروو زارت استول شوی لیک:

دمهاجرینو په هکله دی دپراگنده اقداماتو پرځای دهغوی اساسی ستونزه حل شي

دملگروملتودعمومی
منشي ښاغلی کوفی عنان
په نامه دافغانستان
داسلامی امارت دبهرنیو
چارو وزیر محترم مولوی
وکیل احمد متوکل لیک.
ښاغلی کوفی عنان
دملگروملتونو سرمنشی
خوښ یم چی خپلی نیکی
هیلی ستاسو حضورته
وراندی کوم دموقع څخه
په استفادی سره غواړم
چي د افغان مهاجرینو په
هکله ستاسو توجه یوی
مهمی نقطی ته را جلب
کړم .
لکه څرنگه چي د ډله
ییزو رسنیو منابعو له خوا
داسی څرگند یږي چي
ملگري ملتونه او
دپاکستان گډ هیات په
پاکستان کي دافغان
مهاجرینو د کره کتنی
مقصد تفکیک د هغو
مهاجرینوچیکوم سیاسی
اوکوم غیر سیاسی
مهاجرین دي چی د دي په
حواله د افغانستان
اسلامی امارت د بهرنیو
چارو وزارت ستاسو
محترم او دغریو هیوادونو
توجه یوځل بیا هغه
واقعیت او حقیقت ته
راجلبوی چي د افغان
مهاجرینو په اړوند د ذکر
وړ دی . د مهاجرینو لړی
گاوندیو هیوادونو ته د
روسانو د مداخلی او
دکمونستانو په راتگ سره
۴مخ

الهی فرمان

هغه ورځ (دي وریاد کړی) چي خپلي ژبی ، لاسونه او پښي به یي په هغو عملونو شاهدی وایی چي کول به یي.

(۲۴-النور)

د شلتړناو دکارکوونکو محاکمه به څه ډول وی

د ستری محکمی له رئیس او قاضی القضات محترم مولوی نورمحمد ثاقب سره مرکه

هغوی کولای شی په آزادانه ډول خپله دفاع وکړی

له کله نه چي په کابل کي د
شلتیرناو موسسی کارکوونکی
عیسویت ته په بلنه نیول شوی نو په
دی اړه په بهر کي یولړ هیاهوی
رامنځته شوی په ځانگړی توگه
مطبوعاتی نړی خوخپل تول
وسایل په دغه موضوع کي گروکړی
دی مورږ هم د دغه ور ترلاسه شوی
ارزښت له مخی د ستري محکمی له
رئیس او قاضی القضات محترم
مولوی نورمحمد ثاقب سره د دغه
موضوع په اړه یوه لنډه مرکه کړیده
چي د دزنولوستونکوپام وړتهراړوو:
پوښتنه : محترم ثاقب صاحب
۴مخ

دفسلطین له سفیر سره کتنه وشوه

اسلام آباد -باختر:
دپاکستان په اسلامی جمهوریت
کی دافغانستان داسلامی امارت
سفیر محترم ملا عبدالسلام ضعیف
پرون دفلسطین هیواد له سفیر سره
۴مخ

محکمه نظامی فاریاب ایجاد گردید

فاریاب - باختر:
محکمه نظامی ولایت فاریاب
ایجاد گردید .
محترم ملاجانان آغا والی
فاریاب دیروز طی نشستی بامحترم
۴مخ

په اندراب کی یاغی ډلو سره ووژل

کابل باختر:
دیاغی ډلو د قوماندانانو ترمنځ د
خپل منځی اختلافونو او نښتو له
امله د دوی دوه تنه قوماندانان له
یوشمیر وسله والو افرادو سره پرون د
اندراب په ولسوالی کی وژل شویدی
قوماندان علی اکبر او قوماندان
عبدالمحبوب پرون په داسی حال کی
۴مخ

دډیجیټل تیلفون نړیوال شو

کابل - باختر:
دافغانستان په تاریخ کي د
لومړی ځل لپاره کابل ښاریانو ته
مستقیم دابل اسانتیاوي برابری
شویدی او د ډیجیټل تیلفون
مشترکین کولای شی له بهرنی نړی
سره تماس ونیسی دغه تکی
دمخابراتو وزارت دتیلی کمو
۴مخ

تیم سباوون قهرمان جام استقلال گردید

کابل - شریعت:
یك سلسله مسابقات فوتبال که به
مناسبت هشتاد دومین روز استقلال
کشور تحت عنوان جام صلح راه اندازه
گردیده بود که دراین مسابقات تیم
های سباوون ، میوند، منتخبه
اتحادوشاهین وتیم منتخبه هرات شامل
بودند ، که تیم های سباوون ومیوند
تواشتند به فاینل برسند مسابقه
فوتبال که میان این دوتیم پریروز
دراستدیوم ورزشی کابل
ص۴

محترم محمد رحیم سهاك رئیس فابریکه پایپ های پلاستیکی سهاك

سازمان ملل باید بخاطر پرابلم های مردم افغانستان رفع تعزیرات نماید

امارت اسلامی افغانستان نه تنها
درسنگر دفاع از اهداف اسلامی
دربرابر توطئه های اجانب وگروه
یاغی وباغی قراردارد بلکه درتلاش
است تا باروبدست گرفتن پروژه های
عمرانی واقتصادی مشکلات ناشی
از تعزیرات ظالمانه شورای امنیت را
کاهش داده ، رفاه اقتصادی وزمینه
های استفاده سالم مردم را درکشور
مساعد سازد .
درچنین شرایطی که ادامه جنگ
ص۲

دجلال آباد ښار دگمرک په چوک کی :

ترڅنگی لاندی د مارکیټ جوړولوکار په بیړه روان دی

ننگرهار - شریعت:
دننگرهار ولایت ښاروالی دروان کال
په بهیر کی دساختمانی ، سړک
جوړونی او مارکیټ جوړونی په برخه
کی دیادونی وړ کارونه
ترسره کړی دی.
دغه تکی دننگرهار ولایت ښاروال
محترم حافظ محمد مدنی » زموږ
۴مخ

په غزنی کی د بدنی روزنی ودانی جوړه شوه

غزنی - باختر:
د غزنی ولایت د بدنی روزنی او
سپورت ریاست ودانی له ترمیم او
بیا جوړولو وروسته پرون پرانیستل
شوه او د استفادی وړ وگرځیده .
په هغو مراسمو کي چي د امارتی
چارواکو او د سپورت د ښوونکو او
ورزشکارانو په گډون د دغی ودانی د
پرانیستلو په خاطر پرځای شول د
۴مخ

۲۱ پایه دیش آنتن دستگیر شد

کابل باختر:
بیست ویک پایه دیش انتن طی
دوهفته گذشته توسط
موظفین امر بالمعروف ولایت
کابل به دست آمده است .
درپی فعالیت های گروپهای
عملیاتی امربالمعروف ولایت کابل
درامرمبارزه با منکرات که طی
دوهفته گذشته درمربوطات
شهرکابل صورت گرفت ۲۱
ص۴

محترم صفی الله: درلابراتوار های مرکزی ابن سینا روزانه هشتاد معاینه لابراتواری صورت میگرد

کابل - شریعت :
همه کارهاو تحرکات زنده
گی بخاطر پیشرفت جامعه
توسط انسانهای سالم
وصحتمند صورت میگیردکه
درصورت صدمه دیدن
ویامریض شدن ،این کارها
وتحرکات به رکود مواجه
میگردد ،بناً گفته میتوانیم
که صحت عامه بخاطر بوجود
آوردن یك جامعه مرفه وسالم
ص۴



عکاسی یوسف

عکس :ماشین وتولیدات فابریکه پایپ سازی رحیم سهاك

یک نظر ویک طرح برای رشد سطح دهات

ص ۲

دسرحد ونواوقبایلو چارو په وزارت کی:

دکوچیانو سیمه ایزی ستونزی وڅیړل شوی

کابل -باختر:
دکوچی خلکو سیمه ییزی
ستونزی اومشکلات پرون
دسرحدونو او قبایلو دچارو په وزارت
کی دیوی غونډی په ترځ کی
وڅیړل شوی .
۴مخ

د ۴۰۰۰ جریبه ځمکی دخړوبولو لپاره

دبند جوړو لو کار پیل شو

کابل- باختر:
په کوزه موسهی کی دبگرامیو
ولسوالی دکمریو دویالی دسربند
دبنسټ ډبره ورمه ورځ کیښودل
شوه دکابل ولایت داوبولگولو اداری
۴مخ

نن یوه اندزه نشه یی توکی له منځه وړل کیږی

کابل - باختر:
یوه اندازه مخدرموادچی
پخوا دکابل ولایت دامنیه
قوماندانی دموظفینو لخوا
ترلاسه شویدی نن دچارشنبی
په ورځ له غرمی وروسته په
دریو بجو داړوندو
اداږداستازو په وړاندی
دمرنجان غونډی په سیمه کی
په عام محضر کی سوزول
کیږی او له منځه وړل کیږی
کابل ښاریان دی خبروی .

سرعت زیاد استقبال مرگ است

دردوحادثه ترافیکی دونفرکشته وسه تن شدیداً زخمی گردیدند

کابل -شریعت:
حادثه دلخراش ترافیکی شب گذشته
درچارراهی زنبق به وقوع پیوست
یك منبع مسول شعبه حادثات
ترافیك به خبرنگارماگفت:
حوالی ساعت ده وده دقیقه شب سه
شنبه موتر تویوتای سرف از جاده
فرعی وزیراکبرخان خارج گردیده
وباموتر کرولای تکسی دارای
نمبرپلیت ۱۷۳۶۳ کابل که ازجانب
چارراهی شیرپور به طرف چارراهی
آریانا درحرکت بود تصادم نموده ،
موترتکسی خسارمند ودریوران
شدیداً زخمی گردیده به شفاخانه
ص۴

سرمقاله

دلوی او بښونکی خدا «ج » په نامه

دپوښتنی لوری یی غلط کړی دی

په بهرکی ځنی خپرونی چی موږ دهیواد په ملی ژبوخپریږی او په ظاهره یی افغانان خپروی یو دیی دا .ا.ا دبهرنیوچارو وزیرښاغلی متوکل صاحب په هغه خبره خوابدی ښکاریږی چی ویلی یی دی په افغانستان کی دزعامت ستونزه حل ده او مخالفین دی له بغاوت څخه لاس واخلی ...!

دغی خپرونی دتل په څیر دا.ا.ا او افغانانو دستونزو خبری مطرح کړی دی او دهغه مقدس اسلامی شریعت دنفاذ او تطبیق دلوی نعمت په هکله یی هیڅ کله هم څه نه دی ویلی چی دافغانانو لپاره ددنیا او اخرت سرلوړی او ویاړدی ؛ داسی معلومیږی چی دغه مبارک نظام چی دملیونونو شهیدانو کرامو (رح) دوینو محصول او دملیونو معلولینو ، کونډ ویتمانو ،
۲مخ

شـــــریعت

دتاسیس کال :۱۳۷۴ هـ ش
:دلیکوال هیئت ترنظرلاندې
مسؤول مدیر: مولوی اسدالله «حیدری»
مـــرستیال: ملامحمد ابراهیم «نبیل»
دیوی گنه بیه:په هیوادکی(۱۰۰۰)افغانی په پاکستان کی (۳)کلداری
تیلفون :۲۱۳۸۱ توزیع او شکایات:۶۲۸۵۹
پست بکس : (٤٧١)کابل افغانستان
جاری حساب : ٤٠٣٨٥ دافغانستان بانك مرکز
کمپوز: احمدجاوید «فقیری» چاپ : امارتی مطبعه

د سرمقالې پاتې برخه

مهاجرواو درپه دره افغانانو دزړنو ارمان دی ددغه دګیډاراو مجاهد قام لپاره نعمت نه ګڼی نو ځکه یی هیڅ کله نه یادوی او که څه یادوی هغه تل دستونزو خبری دی او داګیلی کوی چی د ا.ا باتجربه افغانان په واک کی نه دی شامل کړی او جګړه یی پای ته نه ورسوله اوداسی نوری ډیری خبری خپروی چی ټولی شکوی اوشکایتونه وی : هغه برباوی چی دا.ا په دغه ویجاړ کړی شوی هیواد کی لاس ته راوړی چی دټولو په سر کی داسلامی مقدس شریعت نفاذ دی دوی یی هیڅ نه یادوی اوکه کله یی تبعاًوبالعرض څه یاد کړی هم وی په ډیره بی خونده لهجه چی کله لاداستهزا ء بوی هم ورڅخه راځی .

داطبعی خبره ده چی دچاپوزه هم دجهاد په لاره کی وینی شوی نه وی او نه یی په پښود جهاد ګرد ونه کینا ستلی وی هغوی نه دجهاد په قدر پوهیږی او نه یی په پایله باندی له شرعی نظره غور کوی بلکی هرڅه په مادی عینکو کی ګوری اوپه قدرت ، اقتدار او واک باندی حساب کوی ، ګیلی او خوشالی یی په همدی محور باندی څرخیږی .

داخلک دی په دی ځان وپوهوی چی افغانان مجاهد اودیندارهٔقام دی داسلام دمقدس شریعت او اسلامی نظام دنفاذ لپاره یی قربانی ورکړی دی اودهغه دساتنی اوحفاظت لپاره نوری قربانی هم لګیادی ورکوی یی او ستونزی ګالی ، دټولی نړی ددښمنی پروانه کوی؛ دا.ا.ا هم دخپلو دیندارو هیوادوالو له خوښی سره سم ددغه مقدس نظام دیوی کوچنی څنډی په بیه هم دمخلوق رضانه اخلی بلکی دخپل خالق جل جلاله رضاغواړی ؛ ددغه مقدس نظام ساتنه او ښیرازی که دیوه باتقوی باعزم او متین شخصیت ترسیوری لاندی ښه راتلای شی نو بیا اسلام هغه ته په زرګونو او لکو نو داسی خلکو باندی ترجیح ورکوی چی ټول هَم اوغم یی واک ، قدرت او اقتداروی او داسی ناتراشه خبر ی هم کوی « . . . کوم زعامت چی داولس دستونزو دحل لپاره اغیزمنه اداره او نظام ونه لیری یوازی دیوه تن په تقوی هیڅ دردنه دواکیږی . . . » په دی خبره مسلمانان پوهیږی چی په اسلامی نظام کی په لومړی ګام کی څه شی مطرح دی ؟ داسلامی شریعت نفاذ او ټینګښت که یوازی دخلکو ستونزی ؟

ترکومه ځایه چی دستونزو دحل خبره ده هغه هم تربل هر نظام په اسلامی نظام کی په ښه توګه راتلای شی خوهرڅه په خپل واراوپه خپل وخت کیدای شی ؛
هغه مسلمانان چی په دیموکراسیوکی دخلکو دستونزوحل لټوی هغوی دی وخت نه ضایع کوی ژرترژره دی غرب او امریکا ته تشریف یوسی چی هغوی ورته په انتظار دی.

د ارتې نړۍ غوښتنه او پرې مضبوطه واکمني؟!!

د همدغو دوو مقصدونو لپاره عیسویان او د دوی سرسخت کلیسائی پیروان له ډیره پخوا نه په دی هڅه کې دی چې نه یوازی د عیسوی نړۍ دپراختیا او پرټوله نړۍ د حکمروایی لپاره زیار او هڅې کوی بلکی د عیسویت خپرول او عام کول یی خپله اصلی تګلاره ګرځولی او غواړی چې په دی سره له اسلامی نړۍ څخه د صلیبی جګړو غچ واخلی ولی اسلامی نړۍ نه یوازی داچې د عیسویت دخپراوی او پرمختګ مخه یی نه ده نیولی بلکی د دې فرصت یی ورکړی چې په اسلامی نړۍ د یهودیت او نصرانیت استعمار خپل اخری قوس را وګرځوی مسلمانان په عقیدوی تزلزل اخته کړی ترڅو اسلامی نړۍ په مادی لحاظ کفری نړۍ ته لاس کتو په شی او دوی له دی موقع څخه په کار اخیستلو سره خپل شوم او له تعصب څخه ډک اهداف په مسلمانانو عملی او د مسلمه امت ترمنځ د نفاق اوربل وساتی مسلمانان پری نړدی چې سره متحد او یوموټی شی ترڅو دخپل اسلامی تاریخ په رڼاکې د ورورۍ او عزت ژوند وکړی .

په تأسف سره باید و وایو چې د یهودانو پټ وراندی د اسلامی نړۍ دغه سترګې پټونه یوازی او یوازی د هغو تش په نامه مرستو لامل دی چې له ګمراهی ، فساد او د مسلمانانو د ذهنیتونو له اړونی څخه پرته کومه بله فایده ترې لاس ته نه راځی مورنه یوازی داچې یهودی استعمار مو آزاد پرېښی ترڅو د اسلام سپېڅلی دین تخریب کړی د دی ترڅنګ مو په خپله غوښتنې ترڅو دفرهنګی همکاری له لیاری د کتابونو ،عریانی مجلو ،انجیلونو وېډیویي کسټونو ، سی ډی او داسی نورو په توزیع اوخپرولو سره دمسلمانانو په بې‌لارې کولواو عیسویت ته په ور اړولو کې پراخ اقدامات وکړی . کلیسا په دی توانیدلی چې د مسلمانانو په بی لاری کولو او عیسویت ته په ور اړولو کې له مختلفو لارو څخه کار واخلی خصوصاً په وروسته پاتې هیوادونو کې چې فقر او لوږ، رنځ او ناپوهی حکم فرما دی ډیر په بیړه خپلو اهدافو ته نږدی کیږی دغه اسلام دښمنه عناصر هغه وخت مسلمه امت ته په کمین کې ناست وی چې کله جنګ ، فقر ، قحطی ، وچکالی ، رنځ او نور مصیبتونه پر کوم ګوټ د دنیا کې واقع شی ترڅو دوی وکولای شی له ډالرو په ډکو جیبونو او له انجیلونو په ډکو

عبدالبصیر دانجنیری پوهنځی محصل

کڅوړو سره میدان ته ور ودانګی په یوه لاس کې مصیبت ځپلو مسلمانانو ته دوایا یوه مړی ډوډی وراندی کوی او په بل لاس سور صلیب همدغه وسله ده چې د توحید جرړه له بیخه وباسی لکه په تیرو نږدی لسیزو کی چې افریقا د مسلمانانو او یهودانو د مبارزی ډګر ؤ یهودانو دپاپ څخه یو ملیون ډالر لاس ته راوړل او ټول یی په افریقا کې دعیسویت په خپرولو او عام کولو ولګول او د دوی مشر پاپ ویلی ؤ چې په ۲۰۰۰ میلادی کال کې به افریقا دیوی داسی لویی وچې په حیث پیژنی چې په هره معنی به له مسلمانانو څخه خالی وی د پاپ د همدغې وینا له مخې په افریقا کې ۳۰۰۰۰ عیسوی دعوت ګرله مجهزو عصری وسایلو سره په کار ګمارل شوی ؤ چې مسلمانان عیسویت ته را وبلی او د بلنې ټول وسایل یی لکه نغدې پیسې ، د ټلو راتلو وسایل ، خیرونې روغتونونه ، کتابخانې ، راډیو ، تلویزیون ، مکتبونه ، او ورکتونونه د خپل طرح شوی پلان له مخې په کار اچولی ؤ د دې هڅو ترڅنګ به یی واړه ماشومان د نغدو پیسو

په مقابل کې رانیول ترڅو یی په عیسویت تربیه کړی دنو لسمی پیړی په تیه لسیزه کی داحصائی له مخې امریکایی عیسویانو درېیمه نړۍ او اسلامی هیوادونه دعیسویت د تبلیغ د عملی کیدو ځایونه بللی نومړی احصائیه ښیی چې په یادو شوبو سیمو کې ۳۷۰۰ نمایندګی دعیسویت د خپرولو او عاملو لپاره کار کوی او داټولې نمایندګی د عیسویت د اصلی مرکز ترمستقیم قیادت او رهنمایی لاندی فعالیت کوی هغه مسیحی کار کوونکی چې دنوموړو نمایندګیو لپاره کار کوی تعدادیی کابو (۳۰۷٤٧٠٧٠٠) تنو ته رسیږی همدغه نمایندګی په حاضر وخت کې (۱٤٢٠) راډیوئی او تلویزیونی دستګاوې په خپل اختیار کې لری د همدغو عیسویت ته بلونکو مسیحیانو کار اخیستنه له خپلو لیکنو او تصنیفاتو څخه ده لکه انجیلونه ، رسالی ، مقالی قلمونه او داسی نور سمعی او بصری وسایل چې د ټولې نړۍ په مسلمانانو پرګنو یی توزیع کوی او هغه کسان چې د دغو وسایلو څخه په کار اخیستلو ګمارل شوی تعداد یی کابو (٤٨) ملیونو ته

رسیږی دغه راز هغه مقدار نغدی رقم چې د عیسویت دخپرولو او عاملو لپاره په اړوندو ارګانونو په مصرف رسیږی (۱۳۹) ملیارده امریکائی ډالرو ته رسیږی .

داچې یهودان په پوره مهارت سره په اسلامی نړۍ کې د عیسویت لپاره کار کوی په ملیاردو ډالر مصرفوی په ملیونونو وګړی دغو کارونو ته استخداموی او خپلو اهدافو ته د رسیدو لپاره له هرې ممکنې لارې څخه د مادی وسایلو په رڼا کې کار اخلی د اوسنی عصر مسلمانان په خاص ډول اسلامی هیوادونه باید دغو خطرونو ته په جدی ډول متوجه و اوسی ویده مسلمانان د خوب نه راپاڅوی د اتفاق او اتحاد د ګډې همکاری لارې خپلې کړی او اسلامی نړۍ ته د وربښنو ریږو په اړوند د اسلامی مقدسو ارزښتونو په رڼا کې د حل لارې وګوری او په پوره یووالی او اتحاد د یهودو او کفری نړۍ لپاره سپر جوړ شی او پری نږدی چې نور اسلام دښمنه عناصر په خپلو ناپاکو هیلو او اهدافو کې کامیاب شی .

په پای کې باید و وایم چې دلته له یادو شویو انجیلونو څخه اوسنی انجیل کتابونه مراد دی کوم چې له انحراف او لاس وهنې څخه پاک نه دی پاتې .

سازمان ملل باید بخاطر پرابلم های ...

وخشکسالی از یک طرف ووضع وتشدید تعزیرات یک جانبه وظالمانه از طرف دیگر مردم ما راتحت فشار اقتصادی قرارداده است ، احداث پروژه ها ،فابریکات واشتغال مردم ما دراین پروژه ها و فابریکات که امارت اسلامی افغانستان یکی پی دیگر روی دست میگیرد و زمینه احیأ وبازسازی آنها را فراهم میسازد اقدامی است بااهمیت ودرخورستایش زیرا از یک طرف مردم ما مصروف بازسازی کشور گردیده وزمینه بدست آوردن عاید حلال برای شان مهیا میگردد از طرف دیگر جلو تبلیغات سو وخصمانه دشمنان را نیز میگیرند که همواره تبلیغ مینمایند گویا امارت اسلامی به امور جنگی توجه بیشتر نموده به رفاه اقتصادی وبهبود وضع زنده گی مردم کمتر توجه مینماید.

احداث وافتتاح فابریکه های تولیدی وصنعتی درحقیقت اعمارمجدد وبازسازی افغانستان بوده که درپهلوی جبهه نظامی عمران وبازسازی کشور را نیز روی دست دارد بخاطر روشن ساختن هرچه بشتر این موضوع خبرنگار روزنامه فابریکه پایپ های پلاستیکی رحیم سهاک را به معرفی گرفته که ذیلاً تقدیم خواننده گان میگردد.

فابریکه پلاستیک سازی رحیم سهاک باسرمایه ابتدائی هفتادملیون افغانی درساحه پارکهای صنعتی کابل به فعالیت آغاز نموده که سرمایه دورانی فعلی فابریکه حدود هفتادملیاردافغانی را احتوا میکند ، دراین فابریکه روزانه حدود چهارتن پایپ های مختلف السا یزاز یک انچ الی ده انچ حتی باطول یکصدوهشتادوپنج متر وچهارصدمتر تولید میگردد که از طریق نمایندگی ها درشهر کابل ، گردیز ، خوست و کندهار به فروش میرسد چون تولیدات فابریکه صدفیصد از مواد نووخالص تهیه میگردد و از نگاه کیفیت وجنسیت سرآمد تولیدات داخلی قراردارد ، تقاضا هایی درمورد ایجاد نمایندگی ها درولایات ننگرهار ، بلخ ، لوگر ،غزنی ،پکتیا وخوست صورت گرفته که انشاالله درآینده نزدیک به ایجاد آن اقدام خواهد شد .

محترم محمد رحیم سهاک رئیس فابریکه درمورد تورید مواد خام پایپ ها چنین گفت:

مواد خام برای فابریکه اکثراً ازتایلند ، رومانیا ، اندونیزیا وعربستان سعودی وارد میگردد که درجریان دوسال اخیرنسبت تعزیرات یک جانبه شورای امنیت سازمان ملل متحدمشکلات تجارملی درکشور زیاد گردیده است وما از مجامع بین المللی ورئیس سازمان ملل متحد تقاضا داریم تاهرچه زودتر مشکلات وپرابلم های زندگی مردم عادی افغانستان را درنظر گرفته ورفع تعزیرات نماید .والسلام

. عمرعبدالله

اقتصاد: یک نظر و یک طرح برای رشد سطح دهات

افغانستان کشور زراعتی و عقب مانده است ، اقتصاد این کشور وابسته به زراعت ومالداری وصنایع دستی میباشد که نقش مردم دهاتی و روستائی دراین امر بس مهم وارزنده میباشد ،لازم است تااکثریت مردم (دهاتیان) را درفعالیت های موثر شان مساعدت مادی ومعنوی نمود و دهات را توسعه داد تا از مهاجرت به طرف شهرها جلوگیری به عمل آید.

احصائیه هانشان میدهد که ۳ ، ۲فیصد نفوس جهان رامردم دهاتی تشکیل میدهند واکثریت این نفوس درکشور های عقب مانده وروبه انکشاف متمرکزمیباشد این نفوس نظر به عوامل جوی اقتصادی ، انکشاف روزافزون تکنالوژی و سایر پدیدهای اجتماعی به طرف شهر هارومی آورند که باعث تضعیف دهات ،کم شدن تولیدات زراعتی ، وازدیاد بیکاری وسایر مشکلات شهری درسطح کشور میگردد.

بناً ایجاب میکند تاماستریلان دهات درطویل المدت بادرنظر داشت اولویت ها ،تحلیل احصائیوی زراعت مالداری وصنایع دستی وغیره شاخص های احصائیوی تهیه منابع مالی ،استفاده ازساحات غیر مزروع، استفاده از آب های موجود ودیگر عوامل طرح شود .

لازم است قبل از ایجاد ماستریلان روستائی به جامعه شناسی دهات رجوع شود بادرنظر داشت خصوصیات مردم هرگام به طور سنجیده (پروگرام های قابلیت تطبیق درجامعه داشته باشد ،)برداشتشود

دراهداف ماستریلان دهات نکات اتی ضروریست.

۱- جلوگیری از مهاجرت ها به طرف شهرها .
۲-ازدیاد محصولات نباتی وحیوانی.
۳-ازدیاد محصولات صنایع دستی . -
٤-صدورامتعه افغانی غرض کسب اسعار.
۵-ازدیاد محصولات خام فابریکه ها .
٦-استفاده اعظمی از اراضی لامزروع بامصرف کم ۷-استفاده از آب های رود خانه ها باایجادموانع آبی.
۸- خود کفائی جامعه ازنگاه اقتصادی .
۹- استفاده از امکانات دست داشته درتوسعه زراعت ومالداری کشور.
۱۰- تنظیم مردم دهاتی درمسائل تعاون.
۱۱- استفاده از امکانات طبیعی (بادوآفتاب)
۱۲- تنظیم مردم روستائی درتحقق پروگرام های زراعتی.
۱۳- استفاده کم مصرف وموثر ازتکنالوژی درسکتورزراعت ومالداری.

بادرنظر داشت اهداف درماستریلان دهات شاخص های آتی ضروریست:

بازگرد انید ن مردم مهاجربه طرف دهات (احیادهات وتوسعه دهات)

ازدیادمساعدت مادی به مهاجرین درمقابل کارانجام شان.

مساعدت به مردم ناتوان دهاتی (بیوه ها ، معیوبین ، مستین)

ازطریق خریداری محصولات شان به قیمت بلند وقیمت تشویقی وصدورامتعه آن به خارج کشور (مساعدت غیر مستقیم) ویا استخدام شان درکار های خفیفه دربدل معاش که تکا فو فامیلشان نماید.

تعین وتثبیت PH خاک کنار رود خانه ها غرض بذرواحداث دهات از اراضی لامزروع وبایر، سروی توپو ګرافی وکادستری اراضی کشور، سروی هایدرولوجیکی اراضی کشور ، تعین وتثبیت نباتات زود رس و با کیفیت درساحات دهات ،ایجاد قوریه ها غرض توسعه دهات ،مراکزخدمات ترویجی زراعتی ومالداری ،مساعدت درتکثیر نسل های قوی وحاصل ده مواشی،ایجاد مناسبات تعاونی (زراعت ، مالداری وصنایع دستی) ،استفاده اعظمی از علفچرها نزدیک ساحات دهاتی ، ایجاد مراکز خدمات اجتماعی واولیه، ایجاد مراکز تجربوی زراعتی ومالداری ،ایجاد مراکز مساعدت درامور رشد وانکشاف محصولات دهاتیان ،توزیع اراضی لامزروع غرض بذر طور رایگان ،عفومالیه وسایر مصارف برای جابجاشوند گان دردهات جدید ،احداث وینوبرک ها دراطراف دهات جدید ، ایجاد فارم های مرغداری ، زنبور داری و حوض پرورش ماهی غرض تهیه مواد غذائی برای اهالی دهات، احداث پلها ، پلچک ها سرک های دهات.

سایر ضروریات درنتیجه کار تشخیص میگردد ، قابل تذکراست که مردم نباید درکمپ ها ودرسایر محلات به حالت پشروګدائی کن زیست کنند، بلکه از نیروی کارشان حداکثر استفاده مثبت شرد ، ودرمقابل باقیمت های تشویقی و سبایدی وسایر مساعدت های غیر مستقیم همکاری خیرخواهانه شوند.

درزمینه طرح ماستریلان دهات تمام متخصصین ودست اندرکاران آماده همکاری اند تاپلان ، پروژه وپروگرام هابه نفع مردم تحقق پذیرد.

تشویق معنوی شورای محترم وزیران ا.ا.ا یکی از جهات اساسی کاربرای همه هموطنان میباشد امیدواریم تانتایج قناعت بخش به نفع همگانی بروز کند .والسلام

روغتیا او ټولنه

د قلندري په زیار

په کوچنی والی کی په مکروبی ناروغیو باندی د تنفسی دستگاه د اخته کیدلو او د شکری د ناروغی ترمنځ اړیکه

په کوچني والي کي په میکروبي ناروغیو باندي دتنفسي دستګاه اخته کیدل د ژوند په وروستیو پړاوونو کي بدن دشکري دناروغی په وړاندي ساتي.

د انګلستان د ساوت همپټون د پوهنتون پوهانو او څېړونکو وموندل

دغه ماشومان چي له یوه کلنی څخه په لږ عمر کي په مکروبي ناروغی اخته شوي وُ په هغو کي په انسولینو پوري اړوند دشکري دناروغی اندازه ډېره لږ وه.

دغه پوهان او څېړونکي په دي باور دي چي دژوند په پیل کي

د میکروبي ناروغیو رامنځته کیدل په نویو زیږیدلو ماشومانو کي دمعافوي دبدن ساتونکي سیستم سمبالوي چي دعمر په زیاتیدو سره دمعافوي بدن دناروغیو په وړاندي په بریالي دول عکس العمل ښیي.

دغه پوهان دیوه ریوټ په ترڅ کي لیکي: په کوچني والي کي له معمولي میکروبونو سره دتماس کموالي د ژوند په راتلونکي پړاو کي دشکري دناروغی له دویم دول سره اړیکه لري، کولاي شو دغه مسئله د اروپا دشمال په زیاترو هیوادونو کي د تیرو دیرشو کلونو په ترڅ کي دشکري دناروغی د زیاتوالي سبب وښیو.

دشکري دناروغی په لومړي دول باندي یعني په انسولینو پوري اړوند دماشومانو دبدن اخته والي یا د انسولینو اندازه کموي او یا هیڅ انسولین نه جوړوي.

انسولین دبدن سوخت اوساز او په وینه کي د خوږو اندازه تنظیموي.

که څه هم دغه ناروغي دانسولینو په پیچکاري کولو سره کنټرولیدلاي شي، خو ناروغ باید د ژوند تر پایه پوري تر علاج او درملني لاندي وي او د ورځي څلور ځلي ورته انسولین پیچکاري شي.

پوهانو او څېړونکو دخپلو څېړنو په ترڅ کي وموندل چي انسولین دعمر ترپوکلنی پوري په میکروبي ناروغیو اخته ملکان او ځواني دشکري دناروغی په وړاندي ساتي.

په کوچنــــي والي کي په میکروبي ناروغیو باندي دتنفسي دستګاه اخته کیدل د ژوند په وروستــــیو پــــړاوونو کي د دیر غــــوره ساتونکي رول لوبوي. قلندري

همکاری برای تولید واکسین ملاریا

مرض ملاریا سالانه دوصد ملیون نفر را می کشد

سه گروه پژوهشی مهم هریك بطور جداگانه تلاش می کردند تا واکسینی برای پیشگیری از بیماری ملاریا درست کنند.انها اعلام کرده اند که قرار است با هم همکاری کنند. سه گروه یادشده که اولی و دومی آن در امریکا و سومی در دنمارك فعالیت می کند می گویند که برای تسریع پژوهشهای خود منابع و تخصیص های خودرا در اختیار یکدیگر قرار خواهند داد، طوریکه راپورهای منتشره میرساند سالانه در حدود سه صد ملیون نفر در جهان به مرض مهلك ملاریا مبتلا می شوند که ازین جمله حدود دو ملیون نفر که عمدتا کودك هستند جان شانرا از دست میدهند. متخصصان امور می گویند که یافتن واکسین برای ملاریا به یك امر عاجل تبدیل شده است زیرا پشه هاي که عامل ویروس ملاریا هستند بطور فزاینده درمقابل داروهای که برای معالجه آن به کار میرود، مقاوم میشوند.

امین

مصرف نمک وفشار خون در تجارب علمای طب

بسیاری از داکتران جهانی عقیده دارند که کاهش نمك در رژیم غذائی فشار خون را کاهش میدهد و لو رژیم غذائی مردم صحي هم نباشد.چنین نظر صحت دارد. گزارش این ریسرچ در مجله طبی نیو انگلیند انتشار یافته است ولی تحقیقات را در زمینه یك تیم طبي در شفاخانه زنان در شهر باستون ایالت مات چوست انجام داده اند. درین تحقیق علمی بیشتر از چار صد نفر اشتراك ورزیده اند که تقریبا نصف تعداد شان مریضان فشار بلند خون بودند همه اینها غذاهای را مي خوردند که دارای مقادیر متفاوت نمك بودند. شواهد قوي وجود دارد که مقدار سودیم در بدن انسان بر فشار خون اثر مي گذارد. داکتران امریکایی مي گویند: تجربه نشان دادانهای که در رژیم غذائي شان از نمك کم استفاده کرده اند دارای فشار خون پائین اند. به هر حال حدود پنجاه ملیون امریکایي به مرض فشار بلند خون گرفتار اند.

همکار

انفلونزا

انفلونزا دتنفسي دستګاه یوه ویروسي ناروغي ده چي دنورو موسمونو په پرتله په ژمي کي زیاته رامنځته کیږي.

د ناروغي نخښي:

لړزانده تبه، سردرد، د هدوکواو بندونو درد، دستوني درد، ټوخي، پرنجي او له پوزي څخه اوبه بهیدل چي په نا خاپي توګه منځته راځي.

د ناروغي موده له دوو تر پنځو ورځو پوري وي او زیاتره ناروغان د یوي اونۍ په بهیر کي ښه کیږي.

د ناروغي عوارض: د دغي ناروغي دیره مشهوره اوعامه عارضه پنومونی یعني دسږو علوني کیدل دي.

مخنیوي یي: بوازي له پنځه کلني عمر څخه د پورته او دسږو، زړه، شکري او پښتورګو ناروغانو ته د واکسین کولو سپارښتنه کیږي ځیني نور درمل هم د ناروغي دمخنیوي او دهغي دمودي دراکمیدلو په کار کي ګټور دي.

علاج یي: علاج د ناروغي دنخښودلږوالي په اندول ترسره کیږي.

د یادوني وړ ټکي: د انفلونزا په ناروغي اخته کسان چي عمریي له اتلسو کلو لږ دي د اسپرین له خوړلو څخه ده وکړي څکه په دغه کار سره د سندرم په نوم د خطرناکي ناروغي رامنځته کیدل لري نه بریښي.

قلندري

ختنه کردن ازبروز ایدس جلوگیری میکند

در نتیجه تحقیقیکه اخیراً در استرالیا صورت گرفته است چنین برمي آید: مردانیکه در زندگي شباروزي شان بنا برعوامل محیطي یا اقتصادي و اجتماعي ختنه شده اند نسبت به آنهاي که ختنه نیستند کمتر به مرض ایدس مبتلا مي شوند. این نتیجه تحقیق رويّ چهل بیمار مصاب به ایدس است که در استرالیا به نشر رسیده است. تاثیر ختنه در جلوگیري از مصاب شدن به مرض ایدس از سال ۱۹۸۰ بدینســــو مورد سوال بود. بعضي از دکتوران معتقد هستند که ختنه کردن افراد از خطر بروز ویروس ایدس به بدن افراد تا حد قابل ملاحظه یي میکاهد. محققان استرالیایي که نتایج چهل رشته تحقیقات جداگانه را بررسي کرده اند مي گویند که در اکثر مردان مبتلا به بیــــــماري ایدس ویــــــروس این بیماري از راه آلت تناسلي وارد بدن شان شده است.

«شاگرد»

دیري شیدي مه څښئ

شیدي دماشومانو ځانګړي خواړه دي اولویان یي ژر نشي هضمولي.

په لویانو کي دشیدو کلسترول دعقوي په رګونو کي را ټولیږي او د رګونو د بندیدو سبب ګرځي، خو لږ اندازه خوړل یي دلویانو لپاره زیان نه رسوي په دي شرط چي لاندي ټکي هم په پام کي ونیول شي:

۱- شیدي باید ورو ورو او غړپ – غړپ و څښل شي

۲- هرڅومره چي کیداي شي باید شیدي سړي وڅښل شي.

۳- غوړ تري لري کړئ.

۴- له غوښو او هګیو سره یوځاي یــــــي مه څښئ.

۵- له شیدو څخه وروسته د نورو خوړو له خوړلو څخه ځان وژغــــــورئ.

باید وویل شي چي له وچي دوبي سره یي څښـــــل بـــــي زیـــــانه دي

قلندري

مصاحبه با «اسپرین»

اخیراً یکي از مجله هاي مشهور طبي بین المللي در باره اسپرین این دواي سحرآمیز و فواید آن مطلبي را نشر کرده، خبرنگارصفحه صحت و تندرستي به یکي از دواخانه هاي رفته وآقاي اسپرین را ازمیان صدها نوع تابلیت، امپول، سیروپ، کپسول و سیروم از آرشیف دواخانه پیدا نموده و این مصاحبه اختصاصي را با ایشان انجام داده که غرض مطالعه تان تقدیم مي شود.

سوال: آقاي اسپرین! شما را مردم بحیث چي مي شناسند و مفاد شما چیست؟

جواب: مراهمه مردم بحیث یك دواي مفید مي شناسند از من همیشه براي سردردي ها استفاده به عمل مي آید، من خودم شهرت طلب نبودم ولي یك تعداد زیاد مردم روزانه یك تابلیت مرا براي جلوگیري از حمله قلبي، بعضي انواع سکته هاي مغزي و چندین تهدید دیگر صحي نوش جان مي کنند.

س: آیا شما غیر ازین چیزها فواید دیگري هم دارید؟

ج: بلي صاحب، خودم از خوبي هاي خود نمیدانم ولي طبیبان براي مریضان خود جهت جلوگیري از سرطان جهاز هاضمه مرا معرفي مي کنند و مقدار کم من (اسپرین) در خدمت جلوگیري از سقط جنین هم گماشته مي شوم، ده سال بعد از ینکه من تولد یافتم یك داکتر امریکایي در ایالت کلیفورنیا بمن گفت که اگر مردم روزانه یك مقدار معین ترا نوش جان کنند خون در رگهاي قلب شان لخته نمي شود و براي هشت هزار مریض خود نسخه داد تا مرا بخرند و بخورند. به فضل خداوند هیچ یك از همین مریض هاي اسپرین خور به اثر مرض قلبي وسکته مغزي هلاك نشدند.

س: مقادات دیگر تان براي آدمي چیست؟

ج: خبرنگار صاحب! باید خودنمایي نشود و عرض کرد که با همین جثه ریزه خود اگر کسي یکروز درمیان مرا بخورد خطراولین حمله القلبي را چهل وچهارفیصد، خطر دوم حمله قلبي را سي فیصد و خطر مرگ را درجریان حمله قلبي بیست وسه فیصد کم مي سازم. هم چنان من مي توانم خطر سکته مغزي را بیست و پنج فیصد کاهش دهم. طبیبان مرا نوازش کنان مي گویند: آفرین اسپرین بچیم تومي تواني خطر سرطان امعاي بزرگ را بین چهل تا پنجا فیصد در انسانها کم بسازي وسرطان رحـــــم راهم بیــــست وپنج فیصــــد تقلـــیل بدهــــي.

س: خوب اسپرین! با اینقدر خوبي ها آیا براي مریضان خطر و درد سري هم هستي یا ني؟

ج: بلي. با این همه شفا بخشي ام عادت بدهم دارم وان اینکه با استفاده منظم ازمن خطر زخم معده پیش مي آیدوخطر خونریزي معده وجود دارد. خوردن بي مشهوره من تراوش خون به مغز است که یك شکل دیگر سکته مغزي را سبب مي شود. مرا ملامت مي کنند که اسپرین بعضا یك نوع ضیق النفس را سبب مي شود.

سوال اخیر خبرنگار: پس چه باید کرد که از فواند تو بهره گرفت وازاضرارتو درامان ماند؟

جواب اسپرین: این را داکتر وطبیب مي داند که کي مرا بخورد و کي مرا نخورد. هیچ کسي عیب و نقص خودرا خودش نمي گوید.

امین

خوردن شرینی اساس ژنتیکی دارد

طوري که دیده مي شود یك تعداد اشخاص و افراد به سن وسال از هم متفاوت علاقه خاصي به خوردن شریني دارند که این تمایل را در بین اطفال مي توان بیشتر مشاهده کرد. داکتران هم توصیه میدارند که براي جلوگیري ازخراب شدن وضع صحي ودندان هاي اطفال باید از خوردن زیادشریني اجتناب کرد.

اخیراً دانشــــــمندان این تمایل اشخـــــاص به خوردن شریني را اساس ژنتیکي خوانده اند آنها در کروموزم چار موش لابراتواري ژني راکشف کردند که گفته مي شودعلاقه و تمایل اشخاص به خوردن شریني از سبب وجودهمین ژنهاست. ازسوي دیگر دانشمندان وجود این ژن را ارثي مي دانند که تاثیر ژنتیکي این تمایل در اطفال بیشتر از دیگران دیده مي شود.

امین

اعلانات

غلام نبي فرزند صفي الله یك در بند حویلي ملکیت خویش واقع ناحیه چهارم رابالاي محمد صابر فرزند محمدرؤف بفروش میرساند.

اشخاص وموسسا تیکه درمورد حــــــویلي مذکورادعا داشته باشند ازنشر اعلان تا ده روز بریاست محکمه وثایق شهر کابل اطلاع دهند درغیرآن حق شکایت رانخواهند داشت.

****

محــــمدصــــــدیق فرزندمحمداســــحاق یك دربندحـــــویلي ملکیت خویش واقع ناحیه سوم رابالاي حاجي عبدالعظیم، حاجي عبدالحلیم ولدان جان محمد وحاجي روح الامیــن فرزندعبدالحلیم وحاجي عـــــبدالغني فرزندجان محمدبفروش میرساند.

اشخاص و موسساتیکه در مورد حویلي مذکور ادعا داشـــــته باشند ازنشراعلان تاده روز بریاست محکمه وثایق شهرکابل اطلاع دهند درغیرآن حق شکایت را نخواهند داشت

****

غلام دســــــتگیر فرزندعبدالصمد یك دربندحـــــویلي ملکیت خویش واقع ناحیه یازدهم رابالاي شفیقه بنت الله محمدبفروش میرساند.

اشخاص وموسساتیکه درمورد حویلي مذکور ادعا داشته باشند ازنشراعلان تا ده روزبریاست محکمه وثایق شهرکابل اطلاع دهند درغیر آن حق شکایت رانخواهند داشت

****

مدیریــــــت حقوق خیرخانه به اطلاع حاجي شاه محمودفرزندشهنواز میرساند تاغرض حل وفصل موضوع نسبتي خویش ازتاریخ ۱۷/٦/ ۱۴۲۲ تاده روز بریاست حقوق ولایت کابل حاضر شود درغیرآن درغیاب وي اجرا ات قــــانوني صورت میگیرد.انگاه حق شکایت رانخواهند دشت.

****

حاجي عـــــبدالمجید فرزندمحمدنذیریك دربند حویلي ملکیت خویش واقع ناحیه ششم رابالاي نوروزعــــلي فرزند احمدعلي بـــــفروش میرساند.اشخاص وموسساتیکه درمورد حویلي مذکور ادعا داشته باشند ازنشراعـــــلان تاده روزریاســـت محکمه وثایق شهرکابل اطلاع دهند درغیرآن حق شکایت رانخواهند داشت.

****

شمس الدین فرزند محمدنبي یك دربند حویلي ملکیت خویش واقع ناحـــیه چهارم رابالاي سیدحبـــــیب فرزندسیدکریم بفروش میرساند.

اشخاص وموسساتیکه درموردحویلي مذکور ادعا داشته باشند ازنشراعلان تاده روز بریاست محکمه وثایق شهرکابل اطلاع دهند درغیرآن حق شکایت رانخواهند داشت.

****

تانك تیل تمبریك پلخمري بــــراي مدت یکمــــال به اجاره داده میشـــــود.

اشخاص وموسساتیکه خواهش اجـــاره گرفتن آنرا داشته باشنـــد درخواست هاي خویشرا بمدیریت عمومي مواد نفتي ولایت بغلان بسپارندوخود شان ازنشر اعلان تاده روز مراجعه نمایندشرطـــــنامه راملاحظه کــــرده میــــتوانند تضــــمین اخـــذ میــــگردد.

دشلترناو دکار...

زموږ لومړی پوښتنه داده لکه څرنګه چي بهرني نړۍ او په ځانګړي توګه مطبوعات دی ته ډیر لیواله دي چي د دغو کسانو په حق کي به وروستی پریکړه څه وي تاسو منحیث د یوه دیني عالم او د افغانستان د قاضی القضات په صفت دغه محاکمه څرنګه ارزیابي کوئ ؟

ځواب : داچي د افغانستان محاکماتي چوکاټ جوړ دی او د تقریباً ۱۳۰۰ کاله را په دیخوا کله چي هیواد ته اسلام راغلی دغه محکمه او چارې یې جریان لري او دیوه اوږده تاریخ له مخي یې لاتر اوسه خپل حیثیت په ځای ساتلی او هم یې په ملي او نړیواله سطحه لوړې لوړې پریکړې کړي دي .

اوس هم د شرعی اصولو او احکامو او دهغو نافذه قوانینو په رڼا کي چي له شریعت سره تطابق ولري دغه محکمه خپل اجراءات ترسره کوی .

په اوسني موضوع کي چي د شلترناو د بهرنیو کارکوونکو د محاکمي موضوع ده د دوی لومړنی تحقیقات ترسره شوی .

دلته به د دوی په هکله پوره معلومات او هر اړخیزه څیړنه کیږي د محاکمي په دوران کي چي کله دستري محکمي جید و علماء او تکړه قاضیانو لازمه وبلله له هرچا چي په دی هکله هر ډول معلومات وغواړي هغه به را وغوښتل شي او هم به د پوره معلوماتو د ترلاسه کولو او د دې لپاره چي که کوم ابهام موجود وي د هغه وضاحت وشي نو هغه هیأت به چي لومړني تحقیقات یې ترسره کړي را وغوښتل شي .

او داچي وروستني پریکړه به څه وي او د جریاناتو نتیجه به څه رامنځته شي له وخته مخکي خبره ده

پوښتنه : آیا دغه موضوع به د محکمي له پریکړي وروسته عالیقدر امیرالمؤمنین ته د نهائی حکم لپاره وړاندې شي او که څنګه ؟

ځواب : دا خو به تاسو ته معلومه وي او یو شرعی امر دی چي امیر د وخت د دي صلاحیت لري چي د موضوع په اړه و وایي چي په دې هکله دې یوه محکمه دایره شي او یا دې د دغو محکمو په ځای نور منتشر علماء د محاکمي لپاره راوغوښتل شي او هم کولای شي و وایي چي د دریو محکمو پرځای دې نوري محکمي دایري شي .

خو داچي د ستري محکمي له پریکړي وروسته به د امیرالمؤمنین اختیار په موضوع کي څنګه یا څومره وي ویلی شو چي له پریکړي وروسته به په خپله محکمه د شرعی او اصولي مقرراتو په رڼا کي د امیر صلاحیت واضح کوی .

محترم الحاج مولوی نورمحمد ثاقب د دي پوښتني په ځواب کي چي متهمینو ته به د ځان د دفاع پوره حق ورکړای شي او که څنګه داسي وویل :

هغوی کاملاً د خپلې دفاع حق لري لکه څرنګه چي دغه محاکمه به د افغانستان د شرعی او قانوني اصولو او مقرراتو په چوکاټ کي وی نو زموږ شرعی او قانوني مقررات بیا دادي چي دواړو جانبینو ته په پوره توګه د خپلو اظهاراتو حق ورکول کیږي مدعی چي دخپلې دعوا بیان کوی په پوره غور او دقت اوریدل کیږي شاهدان به وړاندې کوی شاهدان به کتل کیږي او دهغوی شهادت به په غور اوریدل کیږي په مقابل کي بی چي څوک دفع وایي همدغه رنګ په پوره ازادي او داد سره ویلای شي او په پوره غور او دقت به اوریدل کیږي .

پوښتنه : مهرباني وکړئ و وایی چي د افغاني متهمو بندیانو موضوع ستري محکمي ته حواله شوی او که نه ؟

ځواب : په ابتدائي او لومړی مرحله کي د متهمو خارجي اتباعو موضوع په جریان کي ده او د افغاني متهمو اتباعو موضوع وروستی خبره ده .

دمهاجرینو...

شروع شوی اوږدشیایی قدرت په سر په خپل منځي او تنظیمی جګړو کي د مهاجرینو لړۍ بیا زیاته شوه او د طبیعي آفتونو او هم د دری کلنی سختي وچکالي په سبب او دملګرو ملتونو د ناروا بندیزونو دا هجرتونه لا زیات کړل چي اوس اکثراً د اهجرتونه اقتصادي او د بندیزونو په سبب جریان لري چي داسي اقدامات به د مهاجرینو اساسي مشکلات حل نه کړای شي چي که د داسي ؛ پروګرامونو په ځای د افغاني مهاجرینو اساسي مشکل حل شي ناروا بندیزونه لري او خپل بشري او انساني کمکونه داخل افغانستان ته جلب شي او هم د اریانا افغان هوایي شرکت چي یوه ملکی اداره ده اجازه ورکړی شي چي داخلی او خارجی الوتني وکړای شي چي د مهاجرینو او دمسافرینو مشکلات حل کړی نو دابه د داسي هجرتونو مخه هم ونیسی او افغان مهاجرین به په ابرومندانه توګه سره په خپله خوښه خپل ګران هیواد افغانستان ته راستانه او په ډله ییزه توګه به په زور لیږدونو مخه هم ونیول شي چي دابه د ملګرو ملتو یی طرفه موقف قوی او هم به داسي اقدام پر واقعیت او حقیقت بنا وی .

د وخت نه په استفادی یو ځل بیا خپل احترامات ستاسو محترم حضور ته وړاندې کوم .

مولوی وکیل احمد متوکل

د بهرنیو چارو وزیر

درلابراتوار های مرکزی..

از اهمیت خاصی برخوردار است که ازجمله شعبات صحت عامه یکی هم لابراتورهای مرکزی آن است تحت نام لابراتور های مرکزی ابن سینا .

خبرنگارروزنامه بخاطر برجسته ساختن کارهای این اداره صحبتی نموده بامحترم صفی الله فضلی معاون موسسه که ذیلاً تقدیم خوانده گان میگردد.

لابراتوار های مرکزی ابن سینابحیث یك لابراتور عمومی درسطح زون مرکزی کار میکند ، درساختار تشکیلاتی این موسسه ٤٧ نفر پرسونل فنی واداری میباشد که شب و روز درخدمت هموطنان قراردارند .

با تاسف باید گفت که لابراتوار درجریان جنگهای تنظیمی همه وسایل وسامان آلات ومواد بیولوژیکی خودرا از دست داد باآنهم باامکانات خیلی کم کارهای بس بزرگی دراین لابراتوار ها صورت گرفته وروزانه حدود هشتاد تن غرض معاینات مواد غایطه ، ادرار ،خون به شعابات یورولوژی ، بیوشیمی ، هموتولوژی، پرازیتو لوژی ، باکتریالوژی ،شعبه مواد کیمیاوی مراجعه میکنند که پرسونل این مرکز باحسن اخلاق همراه مراجعین برخورد نموده دقیقترین معاینات را درکوتاه ترین وقت بدسترس مریضان قرار میدهد .

گزارشگر. ش.ف

دجلال آباد ښار...

له خبریال سره په مرکه کي څرګند اوز باته یې کړه .

دننګرهارولایت دښاروالي له خوا دروان هجری قمری کال په بهیر کي ددغه ولایت دمستوفیت او مخابراتو په چوکونو کي دوه ځلي په پاخه او اساسي ډول جوړشوی دی ، دغه راز یو اعشاریه شپږ کیلومتره سرک دجلال آباد په ښار کي ترمیم او قیریزی اچول شوی دی .

دیادوني وړده چي له چپلک فروشي څخه تربزازي پوري دوکانونه چي دښاروالي ملکیت دي په نوی نقشه یې په دوو پوړونو کي په پاخه او اساسي ډول دجوړولو کار روان دی دغه راز دښاروالي په انګړکي دپنځه پوریزی ودانۍ او دګمرک په چوک کي دترځمکي لاندي مارکیټ دجوړولو کارچي پخواپیل شوی په چټکی سره دوام لري.

ده وویل چي دښار دپاکي او نظافت په برخه کي زیاته پاملرنه کیږي او دخامو سرکونو دآبپاشي پروګرام هره ورځ دوام لري .

حمیدالله «عالمی»

دفلسطین له سفیر...

دافغانستان داسلامي امارت دسفارت په مقر کي وکتل .

ددغي کتني په بهیر کي په اسلام آباد کي دفلسطین محترم سفیر دفلسطین دمسلمانو خلکو دیښو دتوپولو په اړوند داسرائیلو دجنایت کارانه عملونو په باب داسلامي امارت سفیر ته څرګندوني وکړي او دافغانستان داسلامي امارت محترم سفیر په دې سختو شرایطو کي دفلسطین له مسلمانو خلکو سره دافغانستان داسلامي امارت اودخلکو بشپړ ملاتړ څرګند کړاو وی ویل لویدیځه نړۍ داسرائیلی عسکرو په بشری ضد عملیاتو باندي سترګي پټوی .

دغه راز په دې کتنه کي کابل ته دفلسطین دسفیر دسفر دنتیجو په باره کي هم خبری اتري وشوی .

دردوحادثه ترافیکی...

انتقال داده شد .

طبق یك خبردیگر حوالی ساعت پنج وسی دقیقه روزچهارشنبه٤ ماه جاری موتر تانکر تریلردار از مسیر جاده میرویس میدان کمپنی انحراف نموده وباموتر نوع کرولای سراچه که از ولایت غزنی به طرف کابل درحرکت بود تصادم نمود . دوتن از مسافرین موترکشته ودوتن دیگر شدیداً خمی گردیده اند منبع افزود : علت این گونه حوادث دخراش اکثراً تیزرانی موتر توسط رانندگان وعدم مراعات قواعد ومقررات ترافیکی میباشد.

محکمه نظامي...

مولوی غلام حیدر رئیس عمومی محاکم نظامی امارت اسلامی افغانستان ایجاد محکمه نظامی ولایت فاریاب راکه به تاسی از هدایت عالیقدر امیرالمؤمنین درآن ولایت ایجاد گردیده است یک اقدام ارزشمند درراه حل وفصل قضایای منسوبین نظامی وتطبیق احکام شرعی خوانده همکاری همه جانبه خویش را دراین رابطه ابراز نمود .

دډیجیتل تیلفون...

نیکپشن رئیس محترم الجنیر رحمت الله دباختر د اطلاعاتي آژانس دخبریال دیوې پوښتني په ځواب کي څرګند کړاو وی ویل د دولس زره لینه دستګاه په دررلو او متناژ سره چي پخوا هیواد ته لیږدول شوې ده د زیاتو آسانتیاوو په برابریدو برسیره د اکسچینج ترانزیت د ګیټ وې صلاحیت هم لري چي د افغانستان د اسلامي امارت د مخابراتو وزارت د اسلام آباد له نړیوال ګیټ سره د دغي دستګاه په نښلولو سره د دغه اسانتیاوی کابل ښاریانو ته برابري کړي .

ده زیاته کړه د اوس د کابل ښار د ډیجیتل تیلفون مشترکین کولی شي له خپلو کورونو د کانونو او دکار له ځایونو څخه په مستقیم ډابل سره په بهر کي له خپلو دوستانو سره .او یا دتجارتي چارو د ګړندي کولو په خاطر په بهر کي له خپلو اړوندو کمپنیو سره تماس ونیسی .

دغه راز د نړۍ تولو مشهورو هیوادونو ته خبر ورکړ شوی دی چي دکابل په مقصد خپلې تیلفوني مخابری له ۹۳ کود سره عیار کړی . لکه څنګه چي اوس د پاکستان د اسلامي جمهوریت له تولو ښارونو څخه د افغانستان په ۹۳ کود دکابل د ډیجیتل له تیلفونونو سره مستقیمی مخابری دوام لری .

محترم الجنیر رحمت الله زیاته کړه هیله لرو چي د نړۍ له نورو هیوادونو څخه د وارده مخابری زمینه هم په نږدې راتلونکي کې برابره شي ده وویل په ډیجیتل تیلفونونو کي د ګډون په خاطر تر اوسه پوری کابو نهه زرو تنو کابل ښاریانو د ګډون فورمي اخیستي دي او له بهر سره د ډیجیتل تیلفون د مستقیم ډابل بهیر پیل شویدی او په نږدې راتلونکي کي په رسمي ډول پرانیستل کیږي او اجوره یې د نورو پخوانیو مخابراتي مرکزونو په پرتله کمه ده.

تیم سباوون...

برگذارگردید .

تیم سباوون باوارد ساختن دوگول برتیم میوندغالب وبرنده جام صلح گردید . وبه این مناسبت دیروزمحفلی دراستدیوم ورزشی کابل برگذارگردیده بود که درجریان آن جام صلح توسط محترم عبدالرحمن رئیس فنی المپیك به تیم سباوون داده شد و محترم حافظ احمد جان کپ مقام دوم رابه تیم میوند ومحترم عبدالوکیل رئیس اداری ومالی المپیك جوایز ، تحایف و مدالهای افتخاری رابرای اعضای تیم سباوون اعطانمودند .

همچنان شرکت روحانی بابا چهل بوتل نوشابه ،فابریکه دیگ بخار سازی یك دیگ بخار ۱۵ لیتره را برای ایمل ، خیاطی مهرالله یك جوره لباس همراه هزار کلدار را برای عبیدالله و شرکت اجمل نوری یك عراده بایسکل را برای حیات الله لوگروال جهت تشویق به اعضای تیم سباوون اعطا کردند.

طی این محفل کپ های افتخاری برای تیم های هرات ،مزارشریف ومدالهای افتخاری برای حکم های این فدراسیون از طرف مقام فدراسیون داده شد طبق یك خبر دیگر مسابقه که دیروز میان تیم های پامیر و مزار (ب) برگذارگردیده بود تیم مزار(ب) باوارد ساختن دوگول برنده شد . **ارسلان**

په اندارب کي...

د اندراب په ولسوالي کي ووژل شول چي په دغي ولسوالي کي د باغی ډلو د وسله والو قوماندانانو ترمنځ سختي نښتي وشوی .

په دغو نښتو کي چي د باغی ډلي د قوماندانانو د همیشنیو خپل منځي اختلافونو زیږنده ده په جګړه کي ټکیل یو شمیر وسله وال کسان وژل شوی او ټپیان شوي او د سیمي اوسیدونکو ته زیات مالي تاوانونه رسیدلي دي .

د نښتي په بهیر کي د دغو قوماندانانو وسله والو افرادو د سیمي د اوسیدونکو په کورونو برید وکړ دهغوی مالونه او شتمني یې لوټ کړی او له ځان سره یې وړی دي د دغي نښتي په پښیدو سره د باغی ډلي تر واکمني لاندی سیمو څخه د ملکي خلکو د مهاجرت یوه بله لړۍ پیل شوی او د اندراب ولسوالي یو شمیر اوسیدونکي . خوندي سیمو ته چي د اسلامي امارت ترکنټرول لاندي دي تیښتدلي دي .

دبند جوړولو کار...

دیو مسول خبر ځای له خولي خبر راکړ ددغه سربند په جوړیدو سره دکابل ولایت دبګرامي ولسوالي دکمریو حسین خیلو ، موزو ، سهاک او دکلای لام خان په کلیو او سیمو او ددغی ولسوالي په نورو ساحوکی دکمریو دویالی له لاری چي پنځه ویشت کیلومتره اوږدوالی دری متره سور او دوه متره ژورښا لري دنږدې څلور زره جریبه زراعتی اوباغی ځمکي د خړوبولو داړتیاوړ او په تامینیږي او دغه راز نږدې دوه زره کورونې به ددغی ویالی له اوبو څخه استفاده وکړي .ددغی ویالی ظرفیت په یوه ثانیه کي دری مکعب متره اوبه دی .

دکوچیانو...

دسرحدونو او قبایلو چارو وزارت معین او کفیل محترم محمد ابراهیم عمری پرون دکوچی قومونو له یو شمیر استازو او مشرانو سره دهغوی د سیمه ییزو ستونزو او مشکلاتو په باب چي دهغوی دمشرانو او ستازو لخوا طرحه شول وکتل.

په دې غونډه کي محترم داود جان او محترم متوخان دکوچي قومونو په نمایندګی داسلامي امارت دلوړو هدفونو په تحقق او عملي کولو کي دهر راز همکاری ژمنه وکړه.

په نوره نړۍ کی

پیښي او بدلونونه

مکسیکو ستی:

زمین لرزه به شدت پنج اعشاریه دو درجه ریاکتر دیشب سواحل مکسیکو را تکان داد مرکز این زلزله درنزدیک یک شهر ساحلی مکسیکو تثبیت شده است.

درباره تلفات وخسارات ناشی از این زلزله گزارش داده نشده است.

***

کولفو:

بهرني خبری سرچیني :

د یوې سپکي یوناني الوتکي پیلوټ چي الوتکه یې د کولفو دټاپو سره نږدې په سمندر کي وغورځیده پرون وروسته له هغه د کلچو پخولو یوی مغازی ته ننوت چي لس ساعته یې په سمندر کي د څپو سره مجادله کړې وه . مقامات وایي د الوتکی ٤٦ کلن پیلوټ د یونان سمندرګی کي وروسته له هغه الوتکه په عاجله توګه کښته کړه چي په ماشین کي یې خرابي رپوټ ورکړ په لس هاوو هلیکوپترونه پوځي ترانسپورتي الوتکي او د ساحلي ساتني کشتي په هغه پسي څو ساعته د وګرځیدلي خو پیلوټ یې پیدا نکړ نو موږی سهار وختي د یونان په شمال کي د پریویزا په بندرکی په داسي حال کي دکلچو پخولو یوی مغازی ته ننوت چي د لامبو وهلو جاکټ یې هم په ځان کي ؤ او په خپله یې حاله ؤ .ا-هـ

***

بهرني خبری سرچیني :

د نړۍ د کمپیوتر جوړولو یولوی شرکت هولت پکر د خپل لوی سیال کمپکت د پیرودلو اعلان کړی چي په نتیجه کي به د تکنالوژۍ یو ستر شرکت رامنځته شي چي د کمپیوتر جوړوني د صنعت له سروال آی بی ام سره د سیالي جوګه شي . که دامعامله د ونډه والو او سمونتکو له خوا ومنل شي نو داسي یو نوی شرکت به رامنځته کړی چي کلني عاید به یې نږدې نوی ملیارده ډالره وی اټکل دی چي دانوی شرکت به ١٤٥ زره خلک د نړۍ په ١٦٠ هیوادونو کي په کار وګماری دهولت پکر او کمپکت دواړو د ونډې بیی په وروستیو میاشتو کي را لویدلي دي او دخپلو کارګرو دکمولو اعلان یې کړی ؤ .ا-هـ

۲۱ پایه دیش آنتن ..

پایه دیش انتن ٦ پایه تلویزیون ۱۷۰ پایه ویدیو وده حلقه کست ویدیو یک پایه ماشین دیش ۲۰ حلقه کست سازوسرود و ٤ حلقه کست سی دی به دست امده است طبق یک خبر دیگر به تعداد ۱۷ نفر که ریش های شانرا کوتاه نموده بودند به تعداد ۲٦ نفر که کست سازوسرود میشنیدند و ٤٤ نفر که تا رکین جماعت بودند به پنجه قانون سپرده شدند همچنان برای یک عده اشخاصی که موهای شانرا خلاف شریعت گذاشته بودند توصیه های لازم صورت گرفت .

په غزني کي دبدني ..

غزني ولایت د اطلاعاتو او کلتور رئیس او د دغه ولایت د المپیک رئیس محترم مفتي لطیف الله حکیمي د خبرو په ترځ کي په دغه ولایت کي د بدني روزني او سپورت ریاست د وداني پرانیستل یو ارزښتناک ګام وباله او د رزمي او غیر رزمي ورزشکارانو او دهغوی د ښوونکو رسالتونه او مسئولیتونه یې جوت کړل .

SHARIAT DAILY
Published by:
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor:Mawlwi. Assadullah.Haidari
Editor :M.Abrahim.Nabil
Composed by:Ahmad Jawed .Faqeer.

توجــــه!
ایمان شما اجازه نخواهدداد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی حرمتی بگذارید